**د څارونکو بنسټونو اندیښنه د ټاکنیز د اصلاحاتو په اړه د دوه ګونی چلند په هکله**

کابل ۱۳۹۳ کال د سلواغه ۱۹

د افغانستان درنو ټاکنو بنسټ (ټیفا) او د آزاد او عادلانه ټاکنو موسسه (فیفا) د ټاکنیزو اصلاحاتو د اوسنی وضعیت، د ملی وحدت حکومت د دوه ګونی لیدلوری د ټاکنیزو اصلاحاتو د راوړلو په هکله او د ټاکنیزو اصلاحاتو د راوړلو وخت د پیل په اړه اندیښنه لری.

دملی وحدت حکومت د رهبرانو د سیاسی موافقتنامی پر اساس د اړینو اصلاحتو راول په قوانینو او اړونده ټاکنیزو بنسټونو، او د ټاکنیزو اصلاحتتو د کمیسیون تشکیل، ددی امر لپاره د حکومت د لومړنیو کارنو څخه شمیرل کیږی. خو لیدل کیږی چی د حکومت لخوا نسبت د ټاکنیزو اصلاحاتو راوړلو لپاره متفاوته چلند کیږی او د موفقتنامی په اساس نه بلکه د جمهوری ریاست د حکم پر اساس د ټاکنیزو اصلاحاتو په اړه نوی تکلاری د لاس لاندی نیول شوی دیږ.

د افغانستان د آزاد او عادلانه ټاکنو موسسه (فیفا) او د افغانستان درنو ټاکنو بنسټ (تیفا) په ټاکنو کی د موثره څارونکو بنسټونو په عنوان له ټاکنو څخه د څارنی او ټاکنیزو اصلاحاتو به اړه په دی بهیر خپل نقش په ښه توګه تر سره کړی او پروسی د ښه والی په اړه د لاندی مواردو عوښتونکی دی.

- د ملی وحدت حکومت جدی تصمیم ونیسی ترڅو د ټاکنیزو اصلاحاتو په بهیر بی له ځنډ څخه پیل شی.
- د ټاکنیزو اصلاحاتو کمیسیون ددی ړمبنیو توافقاتو په بنسټ جوړ شی.
- ټاکنیز اصلاحات یو تخنیکی بهیر دی نباید سیاسی او دولتی شی. بلکه د تیرو ټاکنو د ستونزو د دقیقو ارزونو باندی استوار وی.
- د ټاکنیزو کمیسیونونو په جوړښت کی اصلاحات د ټاکنیزو اصلاحاتو لویه برخه ده، نو پردی اساس د ټاکنیزو کمیسیونونو اوسنی مسئولین نباید د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون په جوړښت کی ونده ولری.
- حکومت دی د ولسوالیو د ټاکنو او د پارلمانی ټاکنو یو ځای تر سره کیدلو تصمیم ونیسی ترڅو اړونده بنستونه خپلی لازم چمتووالی ونیسی.
- د ټاکنو د تر سره کیدو اړوند بنسټونه ژر تر ژره د راتلونکی کال د پارلمانی ټاکنو زمانی جدول د ټاکنیزو اصلاحاتو د جدول په مطابقت سره ترتیب او اعلان کړی.
- د ملی وحدت حکومت د ژر تر ژره د بریښنایی پیژند پانو د ویش لړی پیل کړی.

د افعانستان د آزاده او عادلانه موسسه (فیفا) او د افغانستان درنو ټاکنو بنسټ (تیفا) په دی باور دی چی د تاکنیزو اصلاحتو د کمیسیون رامینځ ته کیدل نو ښه میکانیزم د تخنیکی اصلاحاتو زاوړل په تاکنو کی ګڼل کیږی.

فیفا او تیفا د اړینو اصلاحاتو راوړل د هیواد په تاکنیز نظام کی د ټاکنو له پیل څخه د مخه ضروری او اړین ګڼی. یو ځل بیا د ملی وحدت له رهبری څخه غواړی تر سو د تاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون په جوړولو کی لاس په کار شی.